هفته واره رساله

د امیر اهلسنّت د کتاب " د خبرو کولو آداب " نه شپږم قسط

# دنبه وئیلو او اوریدو فائدې

د تِلاوت د اورېدو شوق

که جنّت پکار وي نو

د اِيمان د سلامتيا ذريعه

اوږۀ زره فائدې


شيخ طريقت، امير اهلِ سنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د ښهٔ وئیلو او اورېدو فائدې (1)

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د ښهٔ وئیلو او اورېدو فائدې " ولولي یا واورې هغهٔ ته د ښهٔ وئیلو او ښهٔ اورېدو توفیق ورعطا کړې، د هغهٔ ظاهر او باطِن ښهٔ کړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه اوبخښې۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

حضرت شیخ ابو بکر شبلي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه یوه ورځ د بغداد شریف د ډېر لوئې عالِم حضرت ابو بکر بن مُجاهد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خوا له تشریف یوړلو نو هغوئي فوراً ودرېدلو او هغوئي ته ورغاړه وتلو او د تندے یې ورله ښکل کړو ډېر پهٔ تعظیم یې د ځان خوا ته کښېنولو، حاضرینو عرض اوکړو: یا سیّدي! تاسو او د بغداد خلقو به د پرونه پورې دوئي ته دېوانه وئیلو خو نن د دوئي دومره قدر او تعظیم ولې؟ جواب یې ورکړو:چې ما هسې داسې وه نهٔ کړل، اَلْحَمْدُ لله! بېګاه ما پهٔ

---

[1] ... دا مضمون د امیر اهل سُنَّت دامت بَرَكَاتُهمُ العالیه د کتاب " د خبرو کولو اداب " د صفحه 81 نه 92 پورې اخستے شوے دے۔

خوب کښې یوه اِیمان تازۀ کوونکې نظاره ولیدله چې ابو بکر شبلي پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو نو د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ودرېدلو او دوئي يې خپلې سينې ته راجُخت کړو تندے يې ورله ښکل او د ځان سره خوا ته يې کښېنولو- ما عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پۀ شبلي باندې د دومره شفقت څۀ وجه ده؟ د الله پاک محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د غیبو پۀ خبر ورکولو) وفرمائيل چې دا د هر نـمونځ نه پس دا آیت لولي:

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِیْزٌ عَلَیْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِیْصٌ عَلَیْكُمْ بِالْمُؤْمِنِیْنَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۲۸﴾

(پ11، سورۀ التوبه: 128) [2]

او د هغې نه پس پۀ ما باندې دُرُود لولي- (القول البدیع، ص346)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## افسوس! د تِلاوت اورېدو سره ډېر خلق پاڅېدل

حضرت سیِّدُنا عُبید بن ابو جَعد رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ روایت کوي چې خلقو ته پته ولګېده چې صَحابِي نبي حضرت سیِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د (عراق د

---

[2] ... [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه تاسو ته ستاسو نه هُغه عظیم رسول تشریف راوړلو چې پۀ هغوئي باندې ستاسو پۀ مشقت کښې پرېوتل ډېر درانه [ګران] تېرېږي، ډېر زیات غوښتونکے، پۀ مسلمانانو باندې ډېر مهربانه، رحم کوونکے دے-

ښار) د مَدائِن پهٔ يو جومات کښې دے نو هغوئي هلته لا رل، د دې پورې چې خواؤ شاه1000 کسان راجمع شول- هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ودرېدلو او وه يـې فرمائيل: تهول خلق کښېنئ، چې کله خلق کښېناستل نو حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د سورهٔ يُوسُف تِلاوت شروع کړو، پهٔ ورو ورو خلق د هٔغه ځائے نه روانېدل شروع شو، د دې پورې چې 100 ته نزدې کسان پاتې شو، هغوئي پهٔ جلال کښې راغللو او وه يـې فرمائيل: "تاسو د ځانه جوړې کړے شوې او فضول خبرې اورېدل غوښتل، خو ما تاسو ته د الله پاک کلام واورولو نو تاسو پاخېدئ او لا رئ-" (حلية الاولياء، ج: 1، ص261، قول نمبر: 683، الله والوں کی باتیں، ج: 1، ص: 377)

## د تِلاوت اورېدو شوق

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د قران پاک تِلاوت کول او اوريدل يقيناً دا د ډېر ثواب کار دے خو افسوس! اوس خلق د دې نه ډېر لرې دي، چې يو قاري صاحب تِلاوت کوي نو زړهٔ نهٔ غواړي چې واوري يـې- د صحابهٔ کرامو عَلیھِمُ الرِّضوَان د تِلاوت د شوق پهٔ باره کښې د "احياءُ العلوم (اردو) " پهٔ وړومبي جلد صفحه 845 باندې دي: بيان کړے شوي دي چې صحابهٔ کرام عَلیھِمُ الرِّضوَان چې به کله را يو ځائے کېدل نو يو ته به يـې پکښې وئيل چې د قرانِ کريم يو سُورت واوروئ- (احياء العلوم ج: 1، ص: 372)

## د یو آیت اورېدو فضیلت

حضرت عبد اللّٰہ بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما فرمائي: کوم کَس چې د قرانِ پاک یو آیت واوري، د قیامت پهٔ ورځ به دا د هغهٔ د پاره نُور وي- (مصنف عبد الرزاق ج: 3، ص: 229، قول نمبر 6032)

تاسو وکتل چې د قرانِ کریم د اورېدو څومره عظیمُ الشان اجر دے او تِلاوت کوونکے څوک چې د دې سبب دے هغه هم پهٔ اجر او ثواب کښې د دهٔ سره شریک دے پهٔ دې شرط چې د ریا او د ځان ښودلو نیت یې نهٔ وي-

## پهٔ تِلاوت کښې یې 20 کاله سخته تېره کړه

که زړهٔ مو لګي او که نهٔ لګي خو عبادت او تِلاوت جاري ساتل پکار دي، اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! چرې خو به مو زړهٔ ولګي- حضرت سیِّدُنا ثابت بُناني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: (د زړهٔ د نهٔ لګېدو باوجود) ما 20 کاله د قرانِ پاک (د تِلاوت کولو) سخته تېره کړه او بیا 20 کاله مې د هغې نه حلاوت (مزه) واخسته- (احیاء العلوم (اردو) ج: 1، ص: 871)

ہر روز میں قراٰن پڑھوں کاش! خدایا اللہ! تلاوت میں مِرے دل کو لگا دے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## که جَنَّت مو پکار وي نو د خیر نه سِوا بل څه پهٔ ژبه مهٔ راولئ

پهٔ ژبه چې صرف خیر جاري وي، د ذِکر او درود وِرد وي- د فضول خبرو

عادت نۀ وي نو دروغ، غيبت، چغلي او عيب لټول وغيره ګناهونو نه به هم خلاص يـئ او داسې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! جَنَّت ته د تللو ذريعه هم جوړه شي- سيِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي چې د حضرت سيِّدُنا عيسٰی روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام پۀ خدمت کښې خلقو عرض اوکړو، څۀ داسې عمل وښايئ چې جَنَّت راته مېلاؤ شي- هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: "چرې هم خبرې مۀ کوئ-" هغوئي عرض اوکړو: داسې خو نشي کېدے- وه يـې فرمائيل: د ښې خبرې نه علاوه پۀ ژبه بل څه مۀ راولئ-" (احياء العلوم (اردو) ج:3، ص:336، احياء العلوم: ج:3، ص:136)

اکثر مِرے ہونٹوں پہ رہے ذِکرِ مدینہ
اللہ زَبان کا ہو عطا قُفلِ مدینہ

(وسائلِ بخشش ص:93)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب!　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ګناهونو نه يـې رښتونې توبه وکړه

اے د جَنَّت غوښتونکو! د دې واقعې نه معلومه شوه چې ژبه قابو کول او د غير ضروري خبرو نه بچ کېدل جَنَّت ته بوتلونکے کار دے، ژبه او د بدن نور اندامونه د ګناهونو نه د بچ کولو سره جَنَّت ته د بوتلونکو اعمالو کولو د جذبې موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول کښې ځان شامل

کړېږ، اِنْ شَآءَاللهُ الْکَرِیْم! پهٔ فائده کښې به پاتې شئ- د اخرت د خېر موندلو د شوق زیاتولو د پاره یو "مدنی سپرلے" تاسو ته بیانووم- ډېره مخکښېنی خبره ده چې د سندهه یوې زنانه پهٔ داسې دفتر کښې کار کولو چرته چې نارینوؤ او زنانوؤ ټولو نوکري کوله- د بے پردګۍ او د بد نظر سره سره داسې ډېرې بدۍ هلته عامې وې کومې چې د بده مرغه نن پهٔ معاشره کښې هډو بدې نهٔ ګڼلے کیږي- د دې خراب ماحول نتیجه دا وه چې هغې د فلمونو، ډرامو او سندرو او سازونو او د نوي فېشن او پارکونو کښې د بے پردې ګرځېدو شوق لرلو- د مور پلار نافرمانی بلکې د هغوئې سره بد کلامي او د مشرانو سره بد تمیزي کول د هغې معمول وو- یوه ورځ یوې برقعې والا پرده دارې اِسلامي خور د هغې کور ته راغله- چې کله هغوې د هغې پهٔ مخکښې نقاب د مخ نه لرې کړو نو ډېره حېرانه شوه چې دا خو هغه ده چا چې زمونږ سره پهٔ دفتر کښې کار کولو او د دې پشان به یـې پرده نهٔ کوله او فېشن به یـې هم کولو- څهٔ موده مخکښې یـې نوکري پرېښودې وه- اوس هغه د دعوتِ اِسلامي مُبلِغه وه، پهٔ کمه موده کښې د دومره لوئې بدلون لیدلو سره دا ډېره متاثره شوله- اِسلامي خور پهٔ پسته لـهجه کې هغې ته د نیکۍ دعوت ورکړو او د دعوتِ اِسلامي د اِسلامي خوئیندو هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښې یـې د شرکت کولو ترغیب ورکړو، هغې پهٔ اجتماع کښې د شریـکېدو نیت اوکړو- د هغې اِسلامي خور پهٔ ژوند کښې راتلونـکي بدلون د مخکښې نه د هغې د

زړۀ دروازه ډېلولې وه، د سنتو نه ډکه اجتماع کښې د شرکت او هلته د اخرت د فکر نه ډک بيان هغه د غفلت د خوب نه رابېداره کړله، باقي پاتې کسر د ژړا نه ډکې شريکې دعا پوره کړو، هغې خپل جذبات قابو نۀ کړل او د زړۀ د اخلاصه يې وژړل او پۀ خپلو ګناهونو پښېمانه شوه، د الله پاک پۀ بارګاه کښې يې پۀ رښتوني زړۀ سره توبه وکړه- دا د ربِّ کريم شکر ادا کوي چې دې ته يې د ګناهونو د ډنډ نه د راوېستو د پاره د دعوتِ اِسلامي ملاتړ عطا کړو-

سلامت رہے یا خدا مدنی ماحول | بچے بد نظر سے سدا مدنی ماحول
دعا ہے یہ تجھ سے دل ایسا لگا دے | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا مدنی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص: 647)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## خاموشي د اِيمان د سلامتيا ذريعه ده

د چا ژبه چې د قېنچۍ پۀ شان د هر چا خبره کټ کوي هغه به د بل چا پۀ خبره پۀ ښه طريقه د پوهېدو نه محرومه وي، بلکې د قرتن ګس د پاره دا هم خطره وي چې د بق بق کوونکې ژبې سره مَعَاذَ الله! کُفريات هم ووځي- سيِّدُنا امام محمد بن محمد غزالي رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ "احياءُ العلوم " کښې ليکلي دي چې بعضې بزرګانو فرمائيلي دي: "پۀ خاموشه

اوسیدونکي ګس کښې دوه خوبیانې جمع کیږي: ﴿1﴾ د هغهٔ دین سلامت وي او ﴿2﴾ د بل چا پهٔ خبره ښهٔ پوهیږي- (احیاءُ العلوم ج:3، ص:137)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جَنَّتي کېدو راز (واقعه)

د الله پاک خوږ اخري نبي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د الله پاک پهٔ عطا سره خلق د لیدو سره پېژندل چې هغه جَنَّتي دے که دوزخي، بلکې د راتلونکي نه به مخکښې خبر وو چې هغه جَنَّتي دے که دوزخي، د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: "چې کوم ګس چې د ټولو نه وړومبے پهٔ دې دروازه راننوځي هغه به جَنَّتي وي-" پهٔ دې کښې حضرت سیِّدُنا عبد الله بن سلام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ دروازه راننوتلو ، خلقو هغوئي ته اُمبارکي ورکړه او پوښتنه یې اوکړه چې اخر د کوم عمل پهٔ وجه هغوئي ته دا سعادت مېلاؤ شو؟ وه یې فرمائیل: زما عمل خو ډېر کم دے او د کومې چې زهٔ د الله پاک نه طمع لرم هغه زما د سینې سلامتیا او بے مقصده خبرې پرېښودل دي- (الصمت، ج:7، ص:87 قول نمبر:111)

د دې حدیث شریف الفاظ "سَلَامَةِ الصَّدر" یعنې "د سینې سلامتیا" نه مراد د زړهٔ د لَغوِیاتو (یعنې فضولیاتو) بغض او حسد وغېره د ګناهونو د پټو بیمارو نه پاکېدل او پهٔ زړهٔ کښې ایمان مضبوطېدل دي-

رفتار کا گفتار کا کردار کا دے دے
ہر عضو کا دے مجھ کو خدا قفلِ مدینہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## هر صحابي نبي جَنَّتي جَنَّتي

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک پهٔ خوږ اخري نبي مکي مدني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې هر څهٔ قربان! د صحابي نبي عبد الله بن سلام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د قسمت به څهٔ وائي چې هغوئي ته د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبې نه د جَنَّتي کېدو زيرے ميلاؤ شو، بے شکه هغوئي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جَنَّتي دے او صرف هغوئي نهٔ بلکې هر صحابي نبي جَنَّتي دے د "فيضانِ نماز" پهٔ صفحه 329 نه 330 پورې دي: الله کريم پهٔ 27 سيپاره سورة الحديد 10 نمبر آيت کښې ارشاد فرمائي:

لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قٰتَلَ ؕ اُولٰٓىٕكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَ قٰتَلُوْا ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۱۰﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: پهٔ تاسو کښې د فتح نه مخکښې خرچ کوونکي او جهاد کوونکي برابر نهٔ دي، هغوئي وروستو د خرچ کوونکو او جنګ [جهاد] کوونکو نه پهٔ مرتبه کښې زيات لوئي دي او د دې ټولو سره الله د ټولو نه د ښهٔ خيز وعده فرمائيلې ده او الله ستاسو د کارونو نه خبر دے۔

## ټول صحابۀ کرام جَنَّتيان دي

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې آيت مبارک لاندې فرمائي: د دې (صحابۀ کرامو عَلیھمُ الرِّضوَان) درجې خو مختلفې دي خو د هغوئي جَنَّتي کېدل بالکل يقيني دي ځکه چې ربّ وعده کړې ده، ټول صحابه کرام عَلیھمُ الرِّضوَان عادِله او متقيان دي ځکه چې د ټولو سره ربِّ کريم د جَنَّت وعده کړې ده، د جَنَّت وعده د فاسِق (يعنې ګنهګار) سره نۀ وي- (د نور العرفان، د دې آيت لاندې) هر صحابي، د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابيَّت په نسبت سره زمونږ د پاره واجِبُ التَّعظيم دے او د يو صحابي هم ګستاخي [يعنې سپکاوے] حرام او ګمراهي ده-

هر صحابيِ نبي! جَنَّتي جَنَّتي
ټولې صحابِياني هُم! جَنَّتي جَنَّتي
څلور ياران د نبي! جَنَّتي جَنَّتي
حضرتِ صديق هُم جَنَّتي جَنَّتي
او عُمر فاروق هُم جَنَّتي جَنَّتي
عُثمانِ غني جَنَّتي جَنَّتي
فاطِمۀ او علي جَنَّتي جَنَّتي
دي حسن حُسين هُم جَنَّتي جَنَّتي
والدين د نبي جَنَّتي جَنَّتي
هره بي بي د نبي جَنَّتي جَنَّتي
دے مُعاوِيه هُم جَنَّتي جَنَّتي
او ابُو سُفيان هُم جَنَّتي جَنَّتي (3)

3... وسائلِ فردوس، صفحہ:53-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! " فضول خبرې " ګناه نهٔ ده خو دې کښې څهٔ خېر هم نشته- سُبْحٰنَ الله! اوس تاسو يو روايت واورېدو پهٔ کوم کښې چې صحابي نبي حضرت عبد الله بن سلام رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ خُله مبارکه پهٔ دنيا کښې د جَنَّت زېرے ورکړے شو! پهٔ هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ کښې يوه خوبي دا هم وه چې چرې به هم پهٔ فضول خبرو کښې نهٔ اخته کېدلو، د کوم کار سره چې به يې څهٔ کار نهٔ وو د هغې پهٔ باره کښې به يې هډو پوښتنه نهٔ کوله، خو افسوس! چې زمونږ د کومو معاملو سره د لرې لرې پورې هم څهٔ تعلق نهٔ وي بيا هم پهٔ هغې کښې مداخلت (يعني ګوتې وهل) کوؤ او د هغې پهٔ باره کښې بے د څهٔ ضرورته پوښتنې کوو-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ډېر خوراک هم د ډېرو خبرو يوه ذريعه ده

صرف د خوند د پاره د زيات خوراک خښاک پهٔ قران او حديث کښې مَذَمَّت [يعني غندنه] راغلې ده- خِېټه چې کله ډېره ډکه شي نو مستي پکښې هم ډېره راځي او ژبه هم د قېنچۍ پهٔ شان چليږي او کله چې لوږه لږېدلې وي نو اِنسان ناراسته شي، ډېرې خبرې يې زړهٔ نهٔ غواړي- حضرت شيخ عبد الوهاب شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زمونږ اسلافو يعني مخکښينو بزرګانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به سخته لوږه برداشت کوله او پهٔ مړه خِېټه به يې خوراک

نهٔ کولو چې دغه شان د هغوئي خاموشي زياته وي او فضول خبرې کمې وي لکه څنګه چې به د باعمله علمائے دين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم عادت مبارک وو، ځکه چې د چا خِبرته پوره ډکه وي نو د هغهٔ بے فائدې خبرې کول هم زيات وي- (تنبيهُ المغترين، ص: 189)

## بغېر د لوږې نه خوراک کوونکے قړتن وي

حضرت سيِّدُنا محمد راهِبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ خِېټه کښې د فضول خوراک اچولو والا د ژبې نه خبرې هم فضول ووځي- (تنبيهُ المغترين، ص: 189)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تورې زخم رغېږي خو د ژبې زخم نه رغېږي

د غَشي او تورې سره صرف بدن زخمي کيږي، خو د ژبې پهٔ وجه زړهٔ زخمي کيږي- حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې اِنسان پهٔ غَشي ويشتل هغهٔ ته پهٔ ژبه د ردو بدو وئيلو نه کم دي، ځکه چې د ژبې نخښې چرې هم نهٔ خطا کيږي- (تنبيهُ المغترين، ص: 189)

## ژبه قيد کښې ساتئ

کوم کَس چې ژبه قيد کولو کښې کامياب شو هغه يقيناً د بے شمېره فتنو نه بچ شو، صحابيِ رسول حضرت سيِّدُنا عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: " پهٔ هٰغه پاک ذات مې دې قسم وي! د کوم نه سِوا چې بل معبود

نشته، داسې هیڅ یو څیز نشته کوم چې د ژبې نه زیات پهٔ قېد کښې ساتل ضروري وي-" (احیاءُ العلوم، ج: 3، ص: 137، احیاءُ العلوم (اردو) ج: 3، ص: 338)

## کومه خبره چې پهٔ دوؤ شوندو کښې را ځائےنهٔ شي نو بیا هغه چرته هم نهٔ ځائے کیږي

د خبرو کولو نه مخکښې ښه پوره غور پکار دے چې چرته وروستو وه نهٔ شرمیږئ- (د کروړونو شافعیانو پېشوا) حضرت سیِّدُنا امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې خبره د غَشي پهٔ شان ده، که چرې غشے د خوا نه لاړ شي نو هغه د بل چا شي اوس به د هغې مالِک ته نهٔ یېـ- (تنبیهُ المغترین: ص: 189)

بَشَر رازِ دلی کہہ کر ذلیل وخوار ہوتا ہے    نکل جاتی ہے جب خوشبو تو گل بے کار ہوتا ہے

مَا شَآءَ الله بعضې صاحبان ډېر پوهه او راز داره وي چې څهٔ هم اوشي، راز نهٔ راڅېړي او د کور خبره بهر نهٔ کوي- داسې د یو عقلمند واقعه واقِعي د تقلید لائقه ده،

## د کور خبره بهر کوونکے کم ذاته وي

یو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د یو صاحِبِ راز (یعنې راز داره اِنسان) نکاح وشوه خو د ښځې او خاوَند ترمینځه د ذهن د یو والي کمے وو- پهٔ څهٔ طریقه د هغهٔ ملګري ته د دې خبرې پته ولګېده، هغهٔ پوښتنه اوکړه: چې ستا د

کور څهٔ مسئله ده؟ هغه صاحِبِ راز جواب ورکړو: زهٔ دومره کم ذاته نهٔ یم چې د کور خبره چاته اوکړم- څه خبره به راغلې وي- اخر کور نه چلېدو او طلاق وشو- کله چې د هغهٔ ملګري ته پته ولګېده نو وه یې وئیل: اوس خو هغه ستا ښځه نهٔ ده، ووایه څهٔ معامله وه؟ هغه پوهه ګس جواب ورکړو: اوس خو هغه زما د پاره پردۍ زنانه شوې ده او د پردۍ زنانه پهٔ باره کښې زهٔ خبره څنګه اوکړم! (غیبت کی تباہ کاریاں، ص:363)

اللہ ہم کو فضل سے عقلِ سلیم دے شرم و حیا طُفیلِ رسول کریم دے

## بعضې وخت خو داسې خبره د خُلې نه ووځي چې ---

حضرت بلال بن حارث رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي چې د مدینے سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي چې یو لفظ اِنسان د الله پاک د خوشحالۍ ووائي او پهٔ دې نهٔ پوهېږي چې د دې نه به څهٔ لویه رضا حاصلیږي خو الله پاک د هغې پهٔ وجه د قیامت د ورځ پورې خپله رضا (یعني خوشحالي) ولیکي- او کله کله یو لفظ د ناراضتیا ووائي او دا ورته معلومه نهٔ وي چې د دې نه به ډیره لویه ناراضتیا پیدا کیږي خو الله پاک د هغهٔ نه تر د قیامت د ورځې پورې نا راضه شي - (ترمذي، ج:4، ص:143، حدیث:2326)

## هغه به بے فائدې خبرې کمې کوي

کوم خوش قِسمته چې د الله پاک پهٔ ویره ښائسته شي او مرګ ډېر

يادوي، پهٔ لږه ګټه هم شُکر ګزار وي، د ډېر مال او دولت حِرص نهٔ لري او د چا سره چې دا اِحساس هم وي چې " خبرې کول " هم څهٔ عمل دے، د کوم چې به حِساب ورکول وي- نو داسې اِنسان بے کاره خبرې چرې هم نشي کولے- لکه څنګه چې حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائيلي دي: څوک چې مرګ ډېر يادوي، (هغه) د دُنيا پهٔ لږ څيز باندې (هم) قناعت کوي (يعنې پهٔ خپل قِسمت باندې راضي اوسي) او څوک چې خپلې خبرې اترې هم عمل ګڼي هغه بے فائدې خبرې کمې کوي- (احياء العلوم (اردو)، 338/3، احياء العلوم، 137/3)

## د ژبې خوئېدل د ښپو د خوئېدو نه ډېر خطرناک دي

هر وخت د خبرو کولو سره دا انديښنه (يعنې وِېره) هم وي چې چرته د قبوليت (يعنې د قبلېدو) وخت وي او څهٔ خبره نا خوښه د (خُلې نه) ووځي او هم هُغه شان وشي- د عربۍ د يو شاعر د شعرونو ترجمه ده: " اِنسان د خپلې ژبې د خوئېدو پهٔ وجه هلاکېږي، د ښپې د خوئېدو سره هغهٔ له مرګ نه راځي، کوم څيز چې خوښ نهٔ وي پهٔ ژبه د هغې خبره چرې هم مهٔ کوئ، بعضې وخت چې د ژبې نه څهٔ ووځي، هم هُغه شان کيږي-" (تنبيهُ الغافلين، ص:116)

## معلومه نهٔ ده چې کوم وخت د قبلېدو وي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د اخوا ديخوا خبرو نه بچ کيدو

کښې خبر دے، کله چې هم وزګار يـې فوراً په ژبه ذِکر او درود شريف راوستل پکار دي، معلومه نهٔ ده چې کله به څهٔ وخت به د قبلېدو ساعت راشي او زمونږ هر څهٔ سم شي- حضرت لقمان حکیم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځوي ته وفرمائيل: اے زما ځويه! اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی بيا بيا لوله، ځکه چې د الله پاک د طرف نه څهٔ وختونه داسې دي په کومو کښې چې د دُعا غوښتونکو دعاګانې قبلېږي- (کتاب حسن الظن بالله مع موسوعة ابن ابی الدنیا ج: 1 ص: 110، قول نمبر: 118)

## د فضول خبرو کوونکو د قيامت په ورځ په پينځوؤ ځايونو کښې پرېشاني

منقول (یعنې وئیلے شوي) دي چې هر ترڅې تقاضې یا فضول خبرې کوونکے بنده به (د قیامت په ورځ) په پينځوؤ ځايونو کښې د رټلو او وضاحت غوښتو په وجه ودرولے کيږي:

﴿1﴾ تا خبره ولې کړې وه؟ آیا په هغې کښې ستا څهٔ فائده وه؟

﴿2﴾ تا چې کومه خبره کړې وه د هغې نه تا ته څهٔ فائده میلاؤ شوه؟

﴿3﴾ که چرې تا هغه خبره نهٔ کوله نو آيا ستا به څهٔ نقصان کېدو؟

﴿4﴾ تهٔ ولې خاموشه پاتې نهٔ شوې چې دغه شان د انجام نه بچ شوے وې؟

www.dawateislami.net

﴿5﴾ تا د هغې په ځائے د سُبحٰنَ الله الحمدُ لِلّٰه وئیلو سره اجر او ثواب ولې حاصل نهٔ کړو؟ (قوتُ القلوب، جلد اوّل، ص: 468)

حضرت فُضَیل بن عِیاض رَحمَۃُ اللهِ عَلَیه فرمائي: ''پهٔ ژبه د سر حفاظت کیږي-'' (تنبیهُ المغترین، ص: 190) پهٔ ژبه چې چاته څهٔ بد رد ووئیلے شو، کېدے شي چې پهٔ غصه کښې هغه جنګ جګړه شروع کړي او سر وغیره درله مات کړي-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ خاموشۍ کښې 70 زره فائدې دي

یو عقلمند وائي چې پهٔ خاموشۍ کښې 70 زره فائدې دي، کومې چې پهٔ 7 جملو کښې راجمع دي او پهٔ هره جمله کښې 1000 فائدې دي:

﴿1﴾ خاموشي بغیر د محنت نه (یعنې د بعضې شرطونو سره) عبادت دے ﴿2﴾ خاموشي بغیر د کالي نه ښکلا ده ﴿3﴾ خاموشي بغیر د سلطنت نه هیبت دے ﴿4﴾ خاموشي بغیر د دیوالونو نه قلعه ده ﴿5﴾ خاموشۍ کښې چا ته معذرت کول نهٔ وي (یعنې د چا نه بخښنه غوښتل نهٔ وي) ﴿6﴾ پهٔ خاموشۍ کښې د کِراماً کاتِبین (یعنې د اعمالو لیکونکو عزت والؤ فرښتو)

راحت (ارام) دے ﴿7﴾ خاموشي د اِنسان د عېبونو د پاره پرده ده- (تنبیہُ الغافِلین، ص: 117)

## ځواني ليونتوب دے د دې د شر نه ځان بچ کوئ!

پهٔ ځوانئ کښې عموما صحت ښه وي، اُمېدونه او ارمانونه ډېر وي او واقعي چې پهٔ ځوانئ کښې سخت ازمېښت وي - د حضرت حَسنِ بَصري رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ نه روايت دے، د مسلمانانو دوېم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ يو ځوان ته وفرمائيل: "اے ځوانه ! که چرې تهٔ د درېو خيزونو د شر نه بچ شوې نو د ځوانئ د شر نه به محفوظ شې ﴿1﴾ د ژبې د شر (يعني بدو) نه ﴿2﴾ د شرمګاه د شَر نه ﴿3﴾ او درېم د خِېټې د شَر نه-" (تنبیه الغافلین، ص: 117)

ڈھلنے والی ہے جوانی جس پہ تجھ کو ناز ہے
تُو بچالے چاہے جتنا چار دن کا ساز ہے

## د خبرو نه کولو 9 فائدې

واقعي پهٔ کمو خبرو کښې خير او سلامتيا ده- حضرت وُهيب بن وَرد رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: "د خير لس حصې دي، پهٔ هغې کښې 9 حصې صرف پهٔ خاموشئ کښې دي او يوه حصه د خلقو نه پهٔ لرې تښتېدو کښې-" (تنبیهُ المغترین، ص: 190)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب ! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ژبې حفاظت د سرو او سپینو زرو پهٔ شان کوئ

حضرت سیِّدُنا عبد الله بن عَمرو بن عاص رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: " بے مقصده کار پرېږدئ، د فضول خبرو نه ځان بچ کوئ او د خپلې ژبې داسې حفاظت کوئ لکه څنګه چې د سرو او سپینو زرو حفاظت کوئ-" (اللہ والوں کی باتیں، ج: 1، ص: 508، حلیۃ الاولیاء، ج: 1، ص: 359)

## خاموشي " سرهٔ زر " دي

د الله پاک خوږ نبي حضرت سیِّدُنا سلیمان عَلَیۡہِ السَّلَام فرمائي چې که چرې خبرې اترې کول " سپین زر " دي نو چپ اوسېدل " سرهٔ زر " دي- (احیاءُ العلوم، ج: 3، ص: 136)

## د حِکمت والا څوک؟

د مدینے د سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مبارک دے: " چې کله تاسو د دنیا نه بے رَغبَته ګس ووینئ او هغه کمو خبرو والا وموموئ نو د هغهٔ سره کښېنئ ځکه چې هغهٔ له حِکمت ورکړے شوے دے-" (ابن ماجه ج:4، ص:422، حدیث: 4101) پهٔ " مِرآت " کښې د دې حدیث شریف لاندې دي:چې د " حِکمت " نه مُراد علم با عمل دے، بعضې (عُلَماء) فرمائي: د شریعت او طریقت اجتماع یعني دواړه یو ځائے کېدل " حِکمت " دے- (مرات ج:7، ص:57)

## خبرې کمې کار زیات

کوم چې نیک اِنسان وي هغه د ذِکر او درود او د " نیکۍ د دعوت

ورکولو د کار" نه کله وزګارېږي چې فضول بکواس کښې اخته شي او منافق خو وي فالتو څکه که "بق بق" نهٔ کوي نو څهٔ به کوي! لکه څنګه چې د امام اوزَاعِي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دا مقوله [يعنې متل] مشهور دے چې "مسلمان خبرې کمې او کار زيات کوي خو منافق کار کم او خبرې زياتې کوي-" (تنبيهُ الغافلين، ص: 115)

## څلوېښت کاله شپې يې د فضول خبرو نه پرهيز اوکړو

د الله پاک داسې داسې نيک بنده ګان او د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې پتنګان وي چې د ذِکر او درود نه هډو وزګارېږي نهٔ چې د فضول خبرو موقع ورته ميلاؤ شي- حضرت منصور بن مُعتمِر رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د 40 کالو پورې د ماسخوتن د نمونځ نه پس د چا سره پهٔ خبرو اترو کښې برخه وانخسته- (احياءُ العلوم (اردو) ج: 3، ص: 339، احياءُ العلوم، ج: 3، ص: 137)

اللهُ اَکۡبَر! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! الله والا رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم د څلوېښتو څلوېښتو کالو پورې پهٔ خپلو ژبو قابو کولو کښې کامياب شول او زمونږ حال دا دے چې څلوېښت منټه هم خپله ژبه نشو سمبالولے!

بے کار گفتگو سے خدایا بچا مجھے
ذِکر و دُرُودِ پاک کا شَیدا بنا مجھے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکي هفتې رساله





فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net